# په دولتي پوهنتونونو کې علمي شفافیت: ستونزې او حل لارې

**پوهنمل محمدحسین احمدزی**

د انسانپوهنې او لرغونپوهنې څانګه، د ټولنیزو علومو پوهنځي، د کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: ahmadzai.muhd@gmail.com

**لنډیز**

په پوهنتونونو کې علمي شفافیت هغه مهم اصل دی، چې د فساد د مخنیوي سربېره، د علمي- څېړنیزو چارو کیفیت هم تضمینوي. د هېواد په پوهنتونونو کې علمي- څېړنیزې چارې په پراخه توګه ترسره کېږي، خو د شفافیت څرک پکې ډېر نه ترسترګو کېږي، چې له همدې امله یې د علم په تولید کې ونډه کمه او پرټولنه یې اغېز خورا پیکه دی. د هېواد په پوهنتونونو کې د علمي شفافیت د څرنګوالي په اړه تر دې مهاله کومه علمي څېړنه نه ده شوې؛ نو ځکه د څېړنې لپاره یاده موضوع غوره شوې ده. په پوهنتونونو کې د علمي شفافیت پر وړاندې کومې ستونزې پرتې دي او د حل لپاره یې څه باید وشي؟ د دې څېړنې بنسټیزه پوښتنه ده، چې همدې پوښتنې ته د ځواب موندلوپه موخه دا څېړنه ترسره شوې. دا څېړنه یوه توصیفي- تحلیلي څېړنه ده، چې په سیمه ییزه توګه ترسره شوې او اطلاعات یې د پوښتنپاڼو پر بنسټ، را ټول او په کمي او کیفي توګه تحلیل شوي دي.د څېړنې پایلو څرګنده کړه، چې په پوهنتونونو کې د څېړنې د لارو چارو په اړه لږ پوهاوی، د علمي څېړنو لپاره د اړینو اسانتیاوو نشتوالی، ناسم ټولنیز تعاملات او د اغېزناکو تقنیني اسنادو نه شتون، د علمي شفافیت پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي او فساد ته لاره هواروي، چې د حل په موخه یې پکار ده، چې د څېړنې په برخه کې د استادانو او زده کړیالانو وړتیا لوړه شي، په اداري، مالي او تقنیني برخوکې اړینې اسانتیاوې رامنځته او د علمي- څېړنیزو چارو د کیفیت د لا ښه والي لپاره مکافات او مجازات په پام کې ونیول شي.

**کلیدي اصطلاحات**: پوهنتون؛ څېړنه؛ شفافیت؛ فساد؛ کیفیت

# Academic Transparency in Governmental Universities: Challenges and their Solutions

**Sr. Teaching Assistant. Muhammad Hussain Ahmadzai**

Department of Anthropology and Archaeology Faculty of Social Sciences, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: ahmadzai.muhd@gmail.com

**Abstract**

Academic transparency is pivotal in combating corruption and ensuring the integrity of academic affairs. However, university academic research activities are often conducted without regard to transparency, resulting in limited contributions to knowledge production and societal advancement. Surprisingly, there has been a lack of research addressing the issue of academic transparency within the country's universities, which prompted the initiation of this study. The central research question guiding this investigation is the identification of challenges impeding academic transparency within universities and formulating potential solutions. This research adopts a descriptive-analytical approach and employs field research methods. Data was collected through a comprehensive questionnaire and subsequent quantitative and qualitative analyses. The findings of this study have unveiled significant challenges obstructing academic transparency, notably including a lack of awareness among professors regarding research methodology, inadequate resources for conducting research, deficiencies in legal documentation, and instances of unfair social interactions that foster corruption within universities. Enhancing the capacity-building of professors and students in research methodology is imperative to surmount these challenges. Moreover, universities should prioritize providing essential legal, financial, and administrative resources. Implementing a system of incentives and penalties can also promote a culture of rigorous research and academic integrity.

**Keywords:** University; Research; Transparency; Corruption; Quality

**سريزه**

پوهنتونونه هغه علمي بنسټونه دي، چې د ټولنې له اړتيا سره سم، تحصيلي خدمتونه وړاندې کوي او د علمي څېړنو له لارې ټولنيز، کلتوري او اقتصادي پرمختګ ته لاره هوار وي، چې همدې ارزښت ته په پام سره دولتونه پوره پاملرنه ورته کوي او د ملي بودجې يوه ستره برخه ورته ځانګړې کوي، که څه هم تدريس او څېړنه د پوهنتونونو مهمې دندې دي، خو نن په نړۍ کې پوهنتونونه له دې وړاندې ګام اخلي او د ټولنې په بېلابېلو برخو کې د مسايلو او ستونزو د تشخيص او حل لارو موندلو لپاره هڅې کوي، د ټولنې فکري او کلتوري رهبري هم اوسمهال د پوهنتونونو مسووليت ګڼل کېږي، خو د هيواد په دولتي پوهنتونونو کې دا برخې پيکه دي، د ا هر څه هغه مهال شوني دي، چې په پوهنتونونو کې علمي - څېړنيزې چارې په بشپړ شفافيت سره تر سره شي او داسې اغيزناکې څېړنې تر سره شي، چې د ټولنې اړتيا وو ته ځواب ووايي، چې په همدې موخه دا څېړنه په پام کې نيول شوې ده. په دې څېړنيزې مقالې کې لومړی د پوهنتون پېژندنه او په هيواد کې يې مخينه څرګنده شوی او بيا شفافيت روښانه شوی او وروسته په پوهنتونونو کې د علمي شفافيت پر وړاندې ستونزي او حل لاري څرګندې شوې دي.

**د څېړنې مسأله**

د هېواد په پوهنتونونو کې علمي- څېړنيزې چارې ترسره کېږي، خو د علم په توليد کې يې ونډه کمه او پر ټولنه يې اغېز خورا پيکه دی.

**د څېړنې بنسټيزه پوښتنه**

په پوهنتونونو کې د علمي شفافيت پر وړاندې کومې ستونزې پرتې دي او د حل لپاره يې څه بايد وشي؟

**د څېړنې فرعي پوښتنې**

۱.په علمي چارو کې د شفافيت پر وړاندې کومې ستونزې پرتې دي؟

۲.په علمي چارو کې د فساد له منځه وړلو او شفافيت د رامنځته کولو لپاره کومې چارې بايد ترسره شي؟

**د څېړنې موخې**

- د علمي شفافيت پېژندنه؛
- د شفافيت پر وړاندې د شته ستونزو څرګندونه؛
- په علمي چارو کې د شفافيت او فساد د مخنيوي په موخه د حل لارو وړاندې کونه.

## د څېړنې ارزښت

دولتي پوهنتونونه د هیواد هغه ستر څېړنیز مرکزونه دي، چې هر کال پکې د بېلابېلو موخو لپاره علمي – څېړنیزې چارې تر سره کیږي، خو څومره چې ترې تمه کیږي، د علم په تولید کې ونډه نه لري او په ټولنه یې اغیز هم خورا پیکه دی، ځکه چې د ډېری څېړنو کیفیت ټیټ او د شفافیت اصل ته په کې اړینه پاملرنه نه کیږي، چې همدې ستونزې ته په پام، دغه څېړنه تر سره شوې ده. دا څېړنه په دولتي پوهنتونو کې د علمي شفافیت پر وړاندې پرتې ستونزې او خنډونه را برسیره کوي او د حل په موخه یې اړینې حل لارې را په ګوته کوي، باور ده، چې دا څېړنه به د علمي بنسټونو او په ځانګړې توګه د علمي کادر له غړیو سره مرسته وکړي ترڅو په خپلو علمي ـ څېړنیزو چارو کې د شفافیت اصل په پام کې ونیسي او اغیز ناکه څېړنه تر سره کړي.

## د څېړنې نظري بنسټونه

### پوهنتون او په هیواد کې یې مخینه

پوهنتون یا جامعه هغه علمي مرکز ته ویل کیږي، چې بحثونه یې پر علمي حقایقو را څرخي او ښوونه او څېړنه یې مهمې دندې ګڼل کیږي، چې له همدې لارې ټولنې ته خدمتونه وړاندې کوي. د افغانستان لوړو زده کړو قانون د دریمې مادې څلورمه فقره پوهنتون داسې راپېژني: پوهنتون د لوړو زده کړو هغه موسسه ده، چې لږ تر لږه شپږ پوهنځۍ، مناسب معیاري ځای، 30 سلنه د دوکتورا تحصیلي سویې یا پوهندوی او یا له هغه پورته رتبې لرونکې د علمي کادر غړي، معیاري درسی نصاب، د علمي څېړنو فعالیتونه، علمي مجله، کتابتون، انټرنیټي اسانتیاوې، فعال لابراتوارونه، لیلیه، ورزشي امکانات، د معلوماتي ټکنالوژۍ مرکز او لږ تر لږه یوه او یا زیاتې د ماسټرۍ برنامې ولري(قانون تحصیلات عالی، 1394).

اوس مهال په نړۍ کې پوهنتونونه د تدریس او څېړنې سربېره، نورې مهمې دندې هم پرغاړه لري، د شلمې پېړۍ له 60 لسیزې وروسته پوهنتونونو ته له دې امله ډېر زیات پام واوښت، چې له پوهې څخه په ګټنې سره د هر اړخیزې پراختیا په موخه د ټولنې د ستونزو او خنډنو د له منځه وړلو لپاره اړینې لارې چارې پیدا کړي (فریدون، 1383).

په هېواد کې د پوهنتون مخینه د 14 پېړۍ لومړیو ته رسیږي، د محمد نادر شاه د واکمنۍ پر مهال د 1311 لمریز کال د لړم میاشتې په لومړۍ نېټه د کابل پوهنتون د طب پوهنځۍ په دلګشاه ماڼۍ کې په رسمي توګه پرانیستل شو او محمد نادر شاه د طب پوهنځۍ په تاسیس سره، په هېواد کې د لوړو زده کړو بنسټ کېښود (هشام، 1394). په 1342 کال کې د ننګرهار پوهنتون او په 1384 کال کې د کابل پولی

تخنیک پوهنتون رامنځته شو او په 1356 لمریز کال کې د لوړو زده کړو بنسټونو د انسجام او پراختیا په موخه د لوړو زده کړو وزارت د هېواد د ستر علمي، کلتوري او مدیریتي ارګان په توګه تاسیس شو (http://www.mohe.gov.af).

**د شفافیت پېژندنه**

شفافیت یا روڼتیا بېلابېل تعریفونه لري، په عامه توګه شفافیت اطلاعاتو ته د وګړو لاسرسي ته وايي، شفافیت له فساد سره مبارزې ته وايي، شفافیت هغه مدیریتي اصل دی، چې حساب ورکوني، موثریت او مثمریت سره تړاو لري (Ball, 2009) . شفافیت او حساب ورکونه د ښې حکومتولۍ دوه مهم عناصر دي، شفافیت هغه ځواکمنه قوه ده، چې له فساد سره مبارزې کې مرسته کوي، حکومتولۍ پیاوړې کوي او حساب ورکونه لوړوي (www.intosai.org). په تېرو دریو لسیزو کې په عامه اداره کې د شفافیت او حساب ورکونې ارزښت ډېر پام را ړولی دی، په ځانګړې توګه، کله چې دولتي اصلاحاتو ته اړتیا برېښي (Jashari, 2018) .

شفافیت له فساد سره دوه اړخیزه اړیکه لري، د فساد له کمیدو سره د شفافیت کچه لوړیږي او برعکس د فساد له لوړېدو سره د شفافیت کچه را ټیټیږي، نو اړینه ده چې د فساد اصطلاح او لاملونه یې په هر اړخیزه توګه څرګندشي.

د فساد کلیمه له ( فسد) څخه اخیستل شوې، چې له سمو کړنو څخه د مخنیوي په معنی ده، فساد چې په انګلیسی ژبه کې corruption ورته ویل کیږي، له لاتیني ریښې Rump ere څخه اخیستل شوی، چې د ماتېدو یا نقض کېدو معنی لري (ترګانی ، 1399).

د فساد تر ټولو ستر عامل نا لوستي او نا سالمه ښوونه او روزنه ده. هغه ښوونیز نظام، چې ټولو ته یې ګټه ونه رسیږي ، نیمګړی دی. څرګنده ده، چې په هیواد کې په لسګونه ښوونځي، مدرسې او پوهنتونونه را منځته شوي، چې ټولنې ته فارغان وړاندې کوي، خو یو شمېر یې نه د شریعت په اړه پوهیږي، نه د قانون او نه د عدلي او قضایي سیستم په اړه، چې له همدې امله فساد دود شوی او په یو کلتور بدل شوی دی ( د حج او اوقافو وزارت، 1398).

**څېړندود**

دا څېړنه یوه توصیفي څېړنه ده، چې په سیمه ایزه توګه ترسره شوې او اطلاعات یې د پوښتنپاڼو پر مټ را ټول شوي دي. پوښتنپاڼې چې د لکرټ مقیاس په پنځو ځوابونو سره جوړې شوي، د اطلاعاتو د را غونډېدو په موخه د کابل، ښوونې او روزنې، پولی تخنیک، ننګرهار، خوست، بلخ، بدخشان، پکتیا او بامیانو پوهنتونونو استادانو ته په فزیکي او انلاین ډول په واک کې ورکړل شوې وې، چې ۷۸ تنو

یې ځواب کړي دي. د پوښتنپاڼو کمي پوښتنې د spss پرمټ په کمي توګه او پرانیستې پوښتنې یې په کیفي توګه تحلیل شوي دي.

## د څېړنې موندنې

### ۱. کمي تحلیل

د دې څېړنې اطلاعات د پوښتنپاڼو پر مټ راټول شوي او په کمي او کیفي توګه تحلیل شوي دي، د پوښتنپاڼې لس تړلې پوښتنې د SPSS پر مټ تحلیل شوي، چې په لاندې جدول کې څرګندېږي:

لومړی جدول: توصیفي احصایه

| ګڼه | د پوښتنو محوري ټکي | حسابي اوسط | میانه | معیاري انحراف | حد اقل | حداکثر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ظرفیتي ستونزې | ۱,۷۵۸ | ۲ | ۰,۵۸۹ | ۱ | ۴ |
| ۲ | کیفیت ته کمه پاملرنه | ۱,۵۱۷ | ۱ | ۰,۵۴۶ | ۱ | ۳ |
| ۳ | د سرچینو او اسانتیاوو کموالی | ۱,۷۲۴ | ۲ | ۰,۷۷۲ | ۱ | ۵ |
| ۴ | د ادبي سرقت د پلټونکي نشتوالی | ۱,۶۷۸ | ۲ | ۰,۸۵۵ | ۱ | ۴ |
| ۵ | د انتقادي تفکر ضعیف فرهنګ | ۱,۸۰۴ | ۲ | ۰,۷۴۴ | ۱ | ۴ |
| ۶ | ناسم ټولنیز تعاملات | ۲,۳۱۰ | ۲ | ۱,۰۲۵ | ۱ | ۵ |
| ۷ | د درسي مکلفیتونو زیاتوالی | ۱,۵٦۹ | ۱ | ۰,٦۹۵ | ۱ | ۴ |
| ۸ | اقتصادي ستونزې او د حق الرحمې نه ورکړه | ۱,٦۴۳ | ۲ | ۰,۷۹۲ | ۱ | ۴ |
| ۹ | قانوني محدودیتونه | ۲,۴۸۲ | ۲ | ۱,۱۴۹ | ۱ | ۵ |
| ۱۰ | د مکافاتو او مجازاتو نشتوالی | ۱,۷۱۲ | ۲ | ۰,۷۷٦ | ۱ | ۴ |

**د څېړنې برخه کې ټیټ ظرفیت**

ډېری ځواب ویوونکي په دې اند دي، چې د څېړنې لارو چارو سره د استادانو کمه بلدتیا شفافیت ننګوي.

**د ادبي سرقت د پلټونکي سیستم نشتوالی**

د ځواب ویوونکو په باور، د ادبي سرقت د پلټونکي نشتوالی په علمي – څېړنیزو چارو کې د فساد لامل ګرځي او د شفافیت مخه نیسي.

**د مکافاتو او مجازاتو نشتوالی**

جدول ته په پام، د ډېری ځوابویونکو په آند، علمي ـ څېړنیزو چارو کې نوښتګرو ته مکافات په پام کې نه نیول کېږي او برعکس د علمي فساد په صورت کې سزا څوک نهویني، چې دا هم د شفافیت مخنیوی کوي.

**اقتصادي ستونزې او د حق الزحمې نه ورکړه**

د ډيری ځوابويونکو په آند، استادان اقتصادي ستونزې لري او د علمي ـ څېړنيزو آثارو د ارزونې حق الزحمه نه ورکول کېږي، چې له همدې امله شفافيت ته پوره پاملرنه نه کېږي.

**د سرچينو او اسانتياوو کموالی**

ډيری ځوابويونکي په دې آند دي، چې د علمي څېړنو لپاره مجهز کتابتونونه/ لابراتوارونه او د پام وړ اړينې ټکنالوجيکي اسانتياوې شتون نه لري، له همدې امله ګټورې څېړنې ناشونې دي.

**د استادانو د درسي مکلفيت زياتوالی**

د ځوابويونکو ډيری برخه په دې باور دي، چې استادان د درسي مکلفيت له مخې تر ډېره په تدريس بوخت دي او د اغېزناکو څېړنو لپاره کافي وخت نه لري؛ يو شمېر استادان يوازې د ترفيع لپاره څېړنې ترسره کوي، چې په ځينو کې يې شفافيت ډېر نه تر سترګو کېږي.

**ناسم ټولنيز تعاملات**

د ډيری ځوابويونکو په باور، د علمي ـ څېړنيزو فعاليتونو په ارزونه کې سليقوي چلن او ټولنيزې اړيکې د شفافيت مخنيوی کوي.

**د نقد کمزوری فرهنګ**

د ځوابويونکو په آند، انتقادي تفکر حقيقت ته د رسېدو غوره لاره ده، خو د هېواد په علمي بنسټونو کې د نقد کولو او نقد منلو فرهنګ خورا کمزوری دی، چې له همدې امله پام وړ شفافيت نه رامنځته کېږي.

**د ترفيع لپاره د نړيوالو مقالو درلودل او د کتاب ژباړل**

د ځوابويونکو لويه برخه په دې آند ده، چې زياتره استادان په نړيوالو ژبو بشپړ حاکميت نه لري تر څو د ترفيع په موخه په نړيوالو ژورنالونو کې مقالي خپري او يا د ترفيع په موخه کتابونه وژباړي، له همدې امله اړ کېږي، چې د ترفيع کولو په موخه شفافيت ته له پاملرنې پرته خپلې مقالې په نړيوالو ژورنالونو کې خپرې او يا هم يو کتاب وژباړي.

**د کيفيت په پرتله کميت ته ډېره پاملرنه**

د ځوابويونکو په آند، په علمي- څېړنيزو آثارو کې د کيفيت په پرتله د اثر د حجم زياتوالي ته ډېره پاملرنه، څېړونکي اړ کوي، چې هغو موضوعاتو ته هم په خپل آثر کې ځای ورکړي، چې له څېړنې سره کلک تړاو نه لري.

## ۲. کیفي تحلیل

د پوښتنپاڼې دوه پوښتنې پرانیستې وې، چې د ځوابونو تحلیل یې په کیفي توګه ترسره شوی، چې د هرې یوې ځواب یې په لاندې ډول څرګندېږي:

لومړۍ پوښتنه: په پوهنتونونو کې د شفافیت پر وړاندې کومې نورې ستونزې پرتې دي؟

د پوهنتونونو تر منځ د مونوګرافونواو تېزیسونو په اړه د اطلاعاتو نه شریک کېدل؛ د لوړو زده کړو بنسټونو او علومو اکاډمۍ تر منځ نه همغږي او پوهنمل ته د تالیف د صلاحیت نه ورکړه، نورې هغه ستونزې دي، چې د شفافیت مخه نیسي.

دویمه پوښتنه: ستاسو په اند د شفافیت د رامنځته کېدو او د فساد د مخنیوي لپاره کومې چارې باید ترسره شي؟

د علمي شفافیت د رامنځته کېدو لپاره پکار ده، چې د استادانو لپاره د څېړنې نظري او عملي ښوونیز پروګرامونه جوړشي، په هر اړخیزه توګه د استادانو ملاتړ وشي، د کیفیت د تضمین د دوسیو د تکمیل لپاره په تشکیل کې اداري بستونه رامنځته شي، استادان څېړنو ته وهڅول شي او د څېړنې له پایلو یې ګټه واخیستل شي.

### د څېړنې پایلې

د څېړنې د موندنو پر بنسټ، دې پایلې ته رسېږو، چې: ټیټ ظرفیت، د اړینو امکاناتو او اسانتیاوو نشتوالی، اقتصادي، فرهنګي او ټولنیزې ستونزې او قانوني خنډونه، په پوهنتونونو کې د علمي شفافیت پر وړاندې پرتې ستونزې دي، چې د حل لپاره یې پکار ده د استادانو مسلکي وړتیا لوړه، د لوړو زده کړو په تقنیني اسنادو کې اړین بدلونونه رامنځته، د څېړنو لپاره ټول اړین امکانات او اسانتیاوې برابرې او غوره څېړونکي په مادي او معنوي توګه ونازول شي.

### وړاندیزونه

- د لوړو زده کړو وزارت دې په څېړنیز ډګر کې د استادانو د وړتیا لوړولو په موخه نظري او عملي ښوونیز پروګرامونه جوړ کړي؛
- د لوړو زده کړو وزارت دې د کال د غوره څېړونکي جایزه رامنځته کړي؛
- د لوړو زده کړو وزارت دې د استادانو د څېړنیزو فعالیتونو مادي او معنوي ملاتړ وکړي؛
- پوهنتونونه دې په هره څانګه کې اړین مسایل تشخیص او د یو میکانیزم له لارې د څېړنې آمریتونو له لوري اړونده څانګو ته د ترفیع د موضوعاتو په توګه وړاندې کړي.

- د لوړوزده کړو تقنیني اسنادو کې دې اړین اصلاحات رامنځته شي.

## سرچینې

ترگانی، محمد قاسم الیاسي. (1399). عوامل موثر بر فساد اداری در سازمان های دولتي افغانستان .اندیشه معاصر، سال پنجم، شماره 19، 65- 86.

جمعی از علما و نویسنده گان وزارت ارشاد، حج واوقاف. ( 1398). مبارزه علیه فساد اداري از دیدگاه دین مبین اسلام، ریاست تدقیق و مطالعات علوم اسلامي.

علی ابادی، احمد. ( 1345). نظام اجتماعی و مسولیت دانشگاه در تربیت نسل جوان، تهران: دانشگاه تهران.

عدلیې وزارت. (1394). د ملکي لوړو زده کړو قانون، رسمي جریده، 1195گڼه .

فریدون، عبدالحسین. (1383). آموزش عالی و توسعه ملي، تهران: فرهنگ.

هشام، نادیه. (1394). جامعه شناسی تعلیم و تربیت افغانستان، کابل: نشر واژه.

Ball, Carolyn. (2009). What is transparency? *Public integrity*, 11, *(4)*, 293-307.

Jashari, Murat, pepaj, Islam. (2018). the role of the principle of Transparency and Accountability in Public Administration, *AUDA*, 10, *(1)*, 60-69.